Pashto

9

سپټمبر

2018

# د رایه ورکولو حقونه.

**د پارلمان، کاونټي شورا/سیمه ییزې شورا او د ښار شورا ټاکنې!**

آیا تاسي د **سویډن تابعیت** لرئ؟ که لرئ یې نو پارلماني ټاکنو کې رایه ورکولی شئ.

آیا تاسي د **3 کلونو** لپاره په سویډن کې راجستر شوي یې؟ - که هو نو تاسي کولی شئ د ښاروالۍ او کاونټي/سیمې ټاکنو کې رایه ورکړئ.

تاسيباید **18 کلن** هم اوسئ!

زه ولې باید رایه ورکړم؟

*که تاسي د سویډن تابعیت لرئ او کوم بل هیواد کې ژوند کوئ نو بیا هم پدې ټولو ټاکنو کې رایه ورکولی شئ. ستاسي رایه د استولو له لارې ترسره کیږي.*

## ستاسې رایه حسابیږي!

- که چیرې تاسي خپل غږ ونه وکاروئ، کوم بل څوک ستاسي چوپتیا کاروي!
- ښځې د نارینه و د معاش تر 88 ٪ پورې ترلاسه کوي، په هرو پنځه ښځو کې یوه په خپل ټول ژوند کې د جدي جنسي تیري سره مخ کیږي، ښځې هر کال د نارینه په پرتله 260 ساعتونه ډیر ناتادیه شوی کورنی کار کوي.
- ښځې د 99 کلونو راهیسې د رایه ورکولو حق لري – خپله رایه د بدلون او اغیزې لپاره وکاروئ!
- د خپل ځان، خپلو خویندو او خپلو لونو (لورګانو) لپاره د غوره ټولنې په موخه رایه ورکړئ! تاسي تل په مستعار ډول رایه ورکوئ – هیڅ څوک به پوهه نشي چې څنګه مو رایه ورکړې.
- ستاسي رایه مهمه ده!

# زه څنګه رایه ورکړم؟

وګورئ چې ستاسې د رایه ورکولو مرکز چیرته دی، هلته خپله نیا، مور، خور، لور، ملګرې او ځان ورسوئ!

ستاسې د رایه ورکولو مرکز پته او پرانیستې ساعتونه ستاسې د رایه ورکولو کارت کې شتون لري، کوم چې ستاسې د نفوس د ثبت پوستي پتې ته لیږل کیږي.

د ځان سره معتبر پیژند کارت لکه د موټر چلولو جواز، د بانک کارت یا ورته پیژند کارت راوړئ.

د ټاکنې په ورځ تاسې کولی شئ په داوطلب ډول د رایه ورکولو کارت له ځان سره راوړئ، مګر که مخکې رایه ورکوئ نو تاسې باید د رایه ورکولو کارت او پیژند کارت دواړه ځان سره ولرئ.

د ګوند نوملړ د رایه ورکولو هغه ځای کې موجود دي چیرې چې تاسې رایه ورکوئ. له یاده مه باسئ چې اوس تاسې کولی شئ درې بیلابیل ټاکنو کې رایه ورکړئ – پارلماني ټاکنې، د کاونټي/سیمې ټاکنې او ځایی/ښاروالی ټاکنې.

ټول ګوندونه خپل نوماندان د رایه ورکولو نوملړ کې وړاچوي. هغه ترتیب چې په نوملړ کې د هغوی لپاره دی مشخص کوي چې څوک به ټاکل کیږي. که چیرې تاسې غواړئ چې کوم ځانګړي نوماند ته رایه ورکړئ نو د هغه د نوم مخې ته موجود خانه کې نښه وکړئ. که چیرې تاسې د کوم نوم مخې ته خانه په نښه نکړئ نو ستاسې رایه د نوملړ سر کې موجود نوماند ته ورځي.

تاسې په مستعار ډول رایه ورکوئ! د خپلې خوښې مطابق رایه پاڼې/د رایه ورکولو ټیکټونه د ځان سره راوړئ او د رایه بکس ته یې واچوئ. دلته تاسې د هغه ګوند نوملړ په یوه پاکټ ولیکئ کوم ته چې غواړئ رایه ورکړئ او پاکټ وتړئ. بیا خپل درې تړلي، مستعار پاکټونه واخلئ او خپل د رایه ورکولو بکس څخه راوځئ.

د رایه ورکولو پاڼې د درې بیلابیل ټاکنو لپاره درې بیلابیل رنګونه لري: ژیړه پاڼه د پارلماني ټاکنو لپاره، نیلي پاڼه د کاونټي/سیمې شورا ټاکنو لپاره او سپینه پاڼه د ښار شورا ټاکنو لپاره دي. تاسې کولی شئ په جلا ټاکنو کې مختلف ګوندونو ته رایه ورکړئ.

کله چې ترسره شو، نو په مرکز کې په کار بوخت یوه نفر ته ورنږدې شئ او په یوه نوملړ کې لاسلیک وکړئ. بیا خپل پاکټ د رایه ورکولو بکس (valurna) کې واچوئ.

تاسې د دې لپاره لاسلیک کوئ ترڅو ډاډ لاسته راشي چې یوازې یوځل رایه ورکړئ، مګر دا چې تاسې کوم ګوند ته رایه ورکړې ده پدې به هیڅ څوک هم پوه نشي.

*که تاسې د ټاکنو په ورځ رایه نشئ ورکولی، نو زموږ مشوره دا ده چې مخکې رایه ورکړئ چې د ټاکنو ورځې څخه 18 ورځې مخکې پیل کیږي. د وخت څخه مخکې رایه ورکول د رایه ورکولو ټاکلي ځایونو کې ترسره کیدی شي. پدې اړه چې دغه ځایونه چیرته موقعیت لري د ښاروالی ویب پاڼې څخه معلومات ترلاسه کړئ.*

په سویډن کې
ډیموکراتیک سیستم څنګه
کار کوي؟

موږ د استازولۍ دیموکراسي لرو؛
پدې توګه چې موږ ګوندونه او
سیاستوال انتخابوو چې د ټولنې
جوړولو کې زموږ د نظرونو
استازیتوب وکړي.

«په سویډن کې ټول
رسمي واک د خلکو دی
او پارلمان د خلکو اصلي
استازیتوب کوي.» /ابتدایی قانون
GRUNDLAGEN

پارلمان د پریکړو کولو لپاره د هیواد ترټولو معتبر شورا ده. د پارلمان غړي د ټاکنو په ورځ ټاکل کیږي. ټول هغه ګوندونه چې د 4 ٪ څخه ډیره رایه ترلاسه کړي په پارلمان کې څوکۍ لاسته راوړي.

هغه ګوند یا ګوندونه چې ترټولو ډیرې رایې واخلي او ټاکنې وګټي، حکومت جوړوي. د حکومت ماموریت د پالیسیو تطبیق دی.

هغه ګوند یا ګوندونه چې حکومت جوړ کړي هغوی وزیران ګوماري او اداري جوړوي او په لاره اچوي.

وزارتونه د واحدونو په توګه کار کوي او په بیلابیل مسایلو پلي کوي، د مثال په توګه د پوهنې وزارت د ښوونځي پالیسي باندې کار کولو مسؤلیت په غاړه لري. وزارتونه د حکومتي ادارو مسؤلیت هم په غاړه لري.

د استخدام خدمت یا کډوالی هییت په څیر اداري زموږ ټولو لپاره څوک چې په سویډن کې اوسیږي خدمات برابر او عرضه کوي.

د پارلمان، کاونټي/سیمې شوراګانو او د ښار شوراګانو لپاره ټاکنې هرو 4 کلونو کې ترسره کیږي.

د اروپا پارلمان ټاکنې هرو 5 کلونو کې ترسره کیږي. د اروپا پارلمان راتلونکې ټاکنې په 2019 کې دي.

هرڅه چې د حکومت لخوا ترسره کیږي د اپوزیسیون (هغه سیاسي ګوندونه چې په حکومت کې ندي)، رسنیو (خپلواک رسنۍ) او انجمنونو (لکه د سویډن د ښځو لابي) لخوا کنټرولیږي.

**د سویډن حکومت د شپږ جلا برخه ای اهدافو له لارې د جنډر مساواتو ترلاسه کولو ته ژمن دی:**

1. د واک او اغیزې مساوي ویش.
2. اقتصادي مساوات.
3. مساوي تعلیم.
4. د ناتادیه کورنې او پاملرنې کار مساوي ویش.
5. مساوي روغتیایی پاملرنه.
6. د ښځو پروړاندې د نارینه تاوتریخوالي له منځه وړل.

*دا اهداف به ټولو فعالیتونو کې د توجه لاندې نیول کیږي ترڅو ترلاسه شي.*

# زه پوهه شوم! زه څه وکړم که چیرې وغواړم چې په نور څه

په دا پریکړه تاسې کوئ چې کوم ګوند او کوم سیاستوال ته رایه ورکړئ او دا ستاسې خپله شخصي پریکړه ده.

Regeringen.se
Riksdagen.se
Valmyndigheten.se
UR.se
SVT.se
SR.se
Alkompis.se (په عربي ژبه خبرونه)
kvinnofridslinjen.se
sverigeskvinnolobby.se

پارلماني ګوندونه:

- www.vansterpartiet.se
- www.socialdemokraterna.se
- www.mp.se
- www.liberalerna.se
- www.centerpartiet.se
- www.moderaterna.se
- www.kristdemokraterna.se
- www.sd.se

ټولې ښاروالۍ، سیمې، د کاونټي شوراګانې او ادارې/نهادونه ویب پاڼې لري. پدغه ویب پاڼو کې تاسې د خپلو حقونو، هغه خدماتو چې تاسې ورڅخه ګټه اخیستلی شئ او هغه شرایط او مقررات چې پلي کیږي په اړه معلومات لوستلی شئ.

SVERIGES KVINNOLOBBY

SVENSKA POSTKOD STIFTELSEN

*Pashto*

| مسایل | Vänsterpartiet | Socialdemokraterna | Miljöpartiet | Liberalerna | Centerpartiet | Moderaterna | Kristdemokraterna |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د دې ډاډ لاسته راوړلو لپاره چې ټولې ښځې او انجونې وکولی شي په عامه ساحو کې د خوندیتوب احساس وکړي او د تاوتریخوالي ګواښونو او فزیکي تاوتریخوالي څخه لیرې اوسي، د ګوندونو پروپوزل.** | د رضایت قانون. د جنسي تیري او جنسي تاوتریخوالي پروړاندې ملي ستراتیژي. هره هغه قضیه په کومه کې چې یوه ښځه د یوه نړدې نارینه خپلوان لخوا وژل شوې باید وپلټل شي. په ښوونځیو کې د ښځو یا فیمینیست له ځان څخه دفاع کولو روزنه معرفي شي. د جنسي مواردو لرونکي اعلاناتو او تبلیغاتو منع کول. د جنسي او نږدې والي اړیکو په اړه غوره تعلیم. | د رضایت قانون. د پولیسو د تمویل ډیرول. | د رضایت قانون. پولیسو ته باید اجازه ورکړل شي چې د کیمرو له لارې څارنه وکړي. د پولیسو د تمویل ډیرول. د تعقیبي چارو لپاره پروپوزل چې د محدودیت امرونه تنفیذ کیږي. په ښوونځیو کې د مخه نیولو هڅې. | ډیر سرتیري. د ښاروالی امنیتي ساتونکو لپاره تمویل. په ښوونځیو کې د مخه نیولو هڅې. | ډیر سرتیري. په عامه ځانګه کې د جنسي ځورونې په وړاندې کار لپاره ډیر تمویل. د جنسي جبر لپاره د جریمو ډیرول. د انجونو او ښځو وضعیت ښه کولو لپاره د هاټ لاینونو د کار پیاوړي کول. د جنسي او نږدې والي اړیکو په اړه غوره تعلیم وړاندې کول. | ډیر سرتیري. پولیسو ته باید اجازه ورکړل شي چې د کیمرو له لارې څارنه وکړي. په ښوونځیو کې مخ نیونکي هڅې. | ډیر سرتیري. پولیسو ته باید اجازه ورکړل شي چې د کیمرو له لارې څارنه وکړي. د انټرنیټ پولیس ځواک. د انټرنیټ سرغړونه کې د تهمت نقصیر د معنې روښانه کول؛ انتشار هم باید د سزا وړ وي. |
| **د ګوندونو پروپوزل د هغه میرمنو لپاره د کار پیل کولو زمینه برابرول او اقتصادي خپلواکۍ ته رسول چې د کار بازار څخه لیرې شوي دي.** | په تعلیم تمرکز. د استخدام دفتر د کار ښه کول. په داسې ښیګڼې پانګونه کول چې ډیرې دندې وزیږوي. | په تعلیم او عملي روزنې تمرکز. چټکې لارې، لکه متمم بستونه او د نوي سوداګریزو دندو رامینځته کول. | د سړو او ښځو لپاره د پناه پروسه باید یوشان وي. د لویانو لپاره د حرفه ای روزنې د ځایونو شمیر ډیرول. د ژبې د ملاتړ ترڅنګ د ښوونځي دمخه ډیرې پرانیستې زده کړې ځایونه. د یوې سوداګرۍ تاسیس کولو کې د والدین رخصتۍ لپاره د جبران په موخه سیستم، ترڅو هغه مور یا پلار چې په کور کې د ماشوم سره پاتې کیږي د دغه ټولو ورځو لپاره تلافي وکولی شي. | هغه افراد چې د والدین رخصتۍ کې وي ښاروالۍ د هغوی لپاره په سویډني ژبه کې کورسونه ترتیب کړي. د استخدام دفتر د کار ښه کول. د RUT اصلاحاتو پراختیا. | د لومړنۍ سطحې دندې – ساده دندې د یو څه ټیټ معاش سره. په لومړیو دوه کلونو کې د معاش مالیه لغوه کول. د RUT اصلاحاتو پراختیا. د هغه والدین لپاره چې د ماشومانو سره سویډن ته راځي د والدین مرسته باندې محدودیت ترڅو دغه مرسته د ماشوم د عمر مطابق تنظیم شي. د خپل شرکت پیل کولو اسانول چې د «لومړنۍ سطحې شرکت» بلل کیږي. د SFI مرستې معرفي کول چې د فعالیت مطابق تادیه شي. | د لومړنۍ سطحې دندې – ساده دندې د یو څه ټیټ معاش سره. د ټولو هغوی لپاره چې کار کوي په ځانګړي توګه هغوی چې عاید یې ټیټ دی د مالیاتو راکمول. د ټولنې د مرستې پوښښ معرفي کول. د هغه والدین ماشومانو لپاره چې د معیشت ملاتړ ترلاسه کوي د ښوونځي دمخه یا وړکتون د حق پراخول. د نویو لپاره د ټولنې اجباري لاربښود معرفي کول. | د معیشت ملاتړ غوښتنه کونکي ښځو لپاره د ژبې ښوونې او عملي روزنې په بڼه د تلافي شرایط. د SFI مطالعاتو، ټولنیز لارښود او د کار بازار ته لاسرسي لپاره شرایط د پناه غوښتنلیک مرحله کې، کله چې ورځنۍ مرسته ملاحظه کیږي. د والدین بیمې دبره د متمم معیشت ملاتړ غوښتونکي افرادو لپاره د فعالیت شرایط. |

Pashto

| مسایل | Vänsterpartiet | Socialdemokraterna | Miljöpartiet | Liberalerna | Centerpartiet | Moderaterna | Kristdemokraterna |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د ګوندونو پروپوزلونه د جنسي ختنې د مخنيوي لپاره او د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې متخلفين يې محکمه شي.** | د روغتيا پاملرنې او عدلي سيستم کې پدې اړه پوهاوی ډېرول. د روغتيا پاملرنې سيکتور کې ختنه شوي ښځو ته د رسيدو په موخه د ملي هڅو لپاره د اړتيا پلټنه. | د پوليسو لپاره د سرچينو ډېرول. نوي راتلونکو ته پدې اړه پوهاوی او خبر ورکول چې جنسي ختنه په سويډن کې منع ده. | د روغتيا پاملرنې سيستم کې د پوهاوي ډېرول. د انجونو او ښځو د جنسي ختنه پروړاندې د ملي عمل پلان. نوي راتلونکو ته پدې اړه پوهاوی او خبر ورکول چې جنسي ختنه په سويډن کې منع ده. | د روغتيا پاملرنې، عدلي سيستم، ښوونځي، او ټولنيز خدماتو کې د پوهاوي ډېرول. د غيرت اړوند تاوتريخوالي پروړاندې کار لپاره ډېرې سرچينې. نوي راتلونکو ته پدې اړه پوهاوی او خبر ورکول چې جنسي ختنه په سويډن کې منع ده. | هغه سرپرستان چې د جنسي ختنې څخه د انجلۍ محافظت کولو کې پاتې راشي، هغه بايد د قانوني تعقيب سره مخ شي. په قضايي پروسه کې د قربانيانو لپاره د ټول ژوند مستعار کيدل يا نه پيژندل کيدل. | د دې پلټنه چې قانون ولې کار نه کوي. | د روغتيا داسې تصديقونو صادرول چې کله کوم څوک خپل هيواد ته سفر کوي د ځان سره يې ويسي، او پدغه کې په روښانه توګه واضح شوي وي چې جنسي ختنه د سويډن قانون له مخې منع ده. |
| **د کم عمرۍ ودونو پای ته رسولو هڅو لپاره د ګوندونو پروپوزلونه.** | په قانون کې د کم عمرۍ ودونو لپاره هيڅ استثنا شتون ونلري. د دې لپاره نوې لارښوونې چې چارواکي او اداري څنګه عمل وکړي کله چې د هيواد د پولو څخه بهر کم عمره ځوانانو يا پيغلو واده وشي. | د کم عمرۍ ودونو پروړاندې قوي محافظت. | د هغه ماشومانو سره د مرستې اسانتيا چې بهر يې واده کړی، او د هغه ماشومانو لپاره چې دلته راتګ څخه مخکې يې واردمخه واده کړی بيرته دلته راتګ او د ودونو لغوه کولو کې ورسره مرسته کول. | په قانون کې د کم عمرۍ ودونو لپاره هيڅ استثنا شتون ونلري. د جبري ودونو – سفرونو لپاره ګمراه کونکي هڅې يا غوښتنې بايد جرم وګڼل شي. د هغه ماشومانو پروړاندې د ادارو او چارواکو د اقداماتو بياکتنه چې سويډن ته راغلي او بهر يې واده کړی دی. | د هغه مذهبي ټولنو عامه تمويل بندول چې د کم عمرۍ ودونه کوي. د محافظت قانون – د يوه ماشوم د پاسپورټ لنډې مودې لپاره ضبط کول که چيرې خطر شتون ولري چې بهر يې واده کيږي. هغه شخص چې د همدې موخې لپاره ماشوم تښتوي بايد د قانوني تعقيب سره مخ شي. د داسې يوه واحد رامينځته کول چې د واده په څير اړيکو کې جبراً بهر ښکيل کيدونکي ماشومانو سره مرسته وکولی شي. په ښوونځي کې د غونډې ملاتړ کول. | په قانون کې د کم عمرۍ ودونو لپاره هيڅ استثنا شتون ونلري. | په قانون کې د کم عمرۍ ودونو لپاره هيڅ استثنا شتون ونلري. هغه ځای ته په سفر بنديز لګول چيرې چې کورنۍ اړ وي چې وښيې د کورنۍ غړي يې چيرته اوسيږي. |
| **د سړو او ښځو ترمينځ د وړيا يا تاديه پرته کار غير مساويانه ويش يا تقسيم بدلولو په موخه د هڅو لپاره د ګوندونو پروپوزل.** | د والدين انفرادي بيمه. په کاري ساعتونو کې عام کموالی. | د والدين انفرادي بيمه. د يوه نورم په توګه د بشپړ وخت دنده. د ښځو د غيرخوندي کاري قراردادونو بندول. | د والدين درې اړخيزه بيمه. | د والدين بيمې اصلاح کول. په ښوونځي کې د مساوي فرصتونو هڅول. | د والدين رخصتۍ خورا موازنه شوي استعمال لپاره د مساوي فرصت بونس. د ماشوم پاملرنې موازنه شوي ويش لپاره د VAB بونس. | د RUT درې پوړه کموالی. | د RUT خدماتو کې د پانګوونې پراخول. |

* د سويډيش دموکرات او فيمينيست نوښت څخه غوښتل شوي و چې پوښتنو ته ځواب ووايي مګر ځواب يې ورنکړ